# د بغلان د سره کوتل په کتیبه کي د پښتو اغیزي

د پښتو ژبي تاریخ د اسلام تر لومړیو پېړیو پوري روښان دی. خو تر اوسه د اسلام دمخه موږ د پښتو کوم ادبي اثر نه لرو، او دا خبره پټه پاته ده چي تر اسلام دمخه دغه ژبه څنګه وه؟

د پښتو د لغاتو او نومونو او ګرامري اصولو اشتراك او نژدېوالی له پخوانو ژبو لکه سنګریت، اوستا، فرس قدیم سره دا فکر را پیدا کوي چي پښتو ژبه له دغو پخوانو ژبو سره قرابت او خپلوي لري او ډېر پخواني مواد یې له قدیمي زمانې څخه را ساتلي دي.

زه پخپلو دغو مرکو کي غواړم چي ښاغلیو لوستونکو ته د دوو زروکالو یو بل زوړ سند وړاندي کړم او رابرسېره کړم چي د تاریخي اسنادو له مخي دا ثابتېږي چي دوه زره کاله دمخه زموږ په وطن کي یوه داسي ژبه درباري او ادبي ژبه وه چي د اوسنۍ فارسي مور او ښایي چي د پښتو به هم مور یا خور وه او د دغي ژبي یو لوی ډېرلیك څو کاله دمخه د بغلان په سره کوتل کي له خاورو څخه پیدا سو چي له لوستني څخه یې د افغانستان په ژب پوهنه کي یو خاص تحول ولوېد او زاړه افکار او تاریخي عقاید یې بالکل پر بله خوا راواړول.

دا کتیبه څنګه او چیري پیدا سوه؟

لس کاله دمخه په ۱۹۵۱ م د پلخمري څخه ۱۵ کیلومتره لیري د سره کوتل په اطرافو کي د لارو جوړولو عملي سړك جوړاوه چي تر مځکي لاندي یې یوه ټوټه لیکلې ډبره وموندله او په یوناني لیك دود څه پر لیکلي وه.

د فرانسي د لرغون پېژندني ډلي چي دغه ډېرلیك وکوت نو یې په دا بل کال کي هلته خپل علمي حفریات د موسیو دانیل شلرم برژه په رهنمایي شروع کړل، او هلته یې تر خاورو لاندي یو لوی معبد کشف کړ چي د کوشاني دورې مجسمې او لیکونه یې ځني را وایستل. دا معبد یو لوی اورتون یعنی آتشکده وه چي د مقدس اور نغری او ایرې او نور آثار پکښې پیدا سول، او دا ښکاره سوه چي دغه تاریخي بنا د ۲۴۰ م کال په حدودو کي په اور سوې او بیا نو دغسي تر خاورو لاندي پاته وه او دغه آتشکده اوه یا اته قرنه تر زردشت وروسته لا هم په تخارستان کي د مزدلیسنا د آئین یو معبد و او د تاریخ پوهان وایي چي دغه معبد د افغانستان د کوشانیانو د عصر خاص فرهنګي او هنري او ادبي او دیني ممیزات راښیي او د پیدا سووکتیبو ژبه یې هم د افغانستان یوه داخلي او محلي ژبه ده.

درې نسخې :-

له دې کتیبې څخه درې نسخې په یوه مضمون او یوه رسم الخط په دغو حفریاتو کي لاس ته راغلي دي. اوله نسخه پر یوه لویه ښویه مسطحه ډبره ده چي ۲۵ لیکي او (۹۴۷) توري په شکسته یوناني رسم الخط لري او د ۱۹۵۷ م د می په میاشت کي تر خاورو لاندي پیدا سوې او اوس د کابل په لرغون تون (موزیم) کي پرته ده.

د سره کوتل د معبد په خرابو کي یو لوی څاه هم ښکاره سو چي په ډبرو یې پوخ کړی و.

د دغو سنګ کاریو په ډبرو کي (۵۳) ټوټې داسي اواري ډبري هم پیدا سوې، چي په هغه یوناني خط یې لیکونه لري. دغه ډبري هم لرغون پوهانو سره مرتبې کړې او په پای کي دا معلومه سوه چي هغه د لومړنۍ نسخې مضمون په ډېر لږ املاوي تفاوت پر دغو ډبرو هم لیکلی دی او په دې ډول ۲۱ ټوټې ډبري په ۲۷ لیکو کي د هغې اولي کتیبې دوهمه نسخه ده او ۳۲ ټوټې نوري ډبري درېیمه نسخه جوړوي.

داسي نو اور موږ د بغلان له ډېرلیك څخه درې نسخې لرو چي تقریباً ۱۸۰۰ کاله تر اوس دمخه لیکلي سوي دي.

د ليك وخت :-

د بغلان د سره‌کوتل د اورتون دغه‌کتيبه تاريخ هم لري او له ٦٨ تر ٧٤ کليمې پوري يې د دې کتيبې د ليکلو وخت داسي ټاکلی دی :

(بدئی ايوګ او دوهيرس خشون نيسان ماه مال) : يعنی "د سلطنت په يو دېرشم کال د نيسان (حمل) د مياشتی مهال".

داسي ښکاري چي د کوشانيانو په عصر کي د تاريخ مبدأ د کوشاني لوی پاچا کانيشکا د جلوس کال ټاکلی سوی و او دغه کتيبه يو دېرش کاله د ده تر جلوس وروسته کښلې سوې ده. سټين کونو او کريستن سن اروپايي پوهان وايي :

چي د کانيشکا د سلطنت دوره له ١٢٥ م تر ١٥٢ م کاله پوري ده، ځکه چي په هند کي د ده نوري کتيبې دا ښکاره کوي چي دی بايد د ١٥١ م او ١٥٢ م د دوبي تر منځ مړ سوی وي او همدغه سټين کونو اروپايي لرغون پوهاند د کانيشکا د عهد لومړنی کال ١٢٩ م ټاکي چي پدغه حساب نو د بغلان دغه کتيبه بايد يو دېرش کاله وروسته په ١٦٠ م کال کښلې سوې وي، چي د کانيشکا د مړګ اتم کال او تر اوس ١٨٠٣ کاله دمخه سي دغه د اتلس سوو کالو دمخه زړه نوشته موږ ته د تاريخ او ژبي له پلوه ډېر ښه معلومات راکوي، او د پښتو ډېري ژوندۍ کليمې پکښې را پيدا کېږي او د فارسي ژبي قديم شکل له پاره خو قديمترين سند دی او دا ثابتوي چي دوه زره کاله مخکي دغه فارسي (خو په قديم شکل) درباري او ادبي ژبه وه، او که دغه کتيبه په غور وکتله سي نو په ژب پوهنه کي ډېره قديمه او ګرانبها ذخيره بلله کېږي. پر دې کتيبه باندي ما په تفصيل سره يو کتابګوټی ليکلی دی خو دلته زه په لنډ ډول ځيني مهمي خبري ځني را اخلم، ښاغيي چي تفصيل به يې ښاغلي لوستونکي په هغه کتاب کي وګوري.

د فارسي مور يا تخاري ژبه :- د اروپا ختيځ پوهانو (مستشرقينو) چي دغه کتيبه کتلې ده دوی يې ژبه باختري بللې ده، مګر زه د البيروني او البشاري مقدسي په قول دا ژبه تخاري بولم، ځکه دوی ليکي چي د بلخ او بدخشان تر منځ چي کومه ژبه ويله کېده، هغه تخاري وه او د بلخ ژبي ته نژدې وه (آثار الباقيه ٢٢٢، احسن التقاسيم ٣٣٥).

تر اوسه د پوهانو په منځ کي منلې او شايعه عقيده دا ده چي د عربو تر راتګ وروسته د ساسانيانو د عصر پهلوي ژبي ورو ورو تغير وکړ. څو په پای کي دغه ژبه په اوسنۍ فارسي تبديل سوه، مګر وروسته ځينو پوهانو د اوسنۍ فارسي په پيدا کېدو کي بله عقيده ښکاره کړه، دوی وايي : چي فارسي ژبه تر اسلام دمخه، هغه وخت لا هم موجوده وه چي پهلوي په پارس کي د دربار او ادب او دين ژبه وه. پر دغه خبره باندي پوهانو ډېر دلايل ويلي دي، مګر هيڅ دليل د بغلان ترکتيبې کلك او قوي نه دی، ځکه چي دې ډېرليك موږ ته دا ثابته کړه چي تقريباً دوه زره کاله تر اوس دمخه د فارسي ژبي مور په تخارستان کي د وينا او ليك او دربار او ادب ژبه وه چي دا دی د بغلان په دغه کتيبه کي تقريباً (١٦٠) لفظه په (٢٥) ليکو کي په يوناني ليك دود موجود دي او دا ځني ښکاري چي فارسي ژبه له پهلوي څخه نه ده زېږېدلې بلکي د پهلوي ژبي د ژوندانه په وختو کي دوه زره کاله دمخه همدغه ژبه په افغانستان کي ژوندۍ وه او دغه زموږ اوسنۍ فارسي له دغي تخاري او کوشاني څخه را پيدا سوې ده او مولد يې هم افغانستان دی، نه پارس او د اېران د قديم فلات غربي مځکي.

د بغلان د کتيبې په استناد په دغي تخاري دوه زره کلني ژبي کي ډېر پښتو کلماتو او افعالو روابط موجود دي نو موږ دا حکم کولای سو چي دغه تاريخي ژبه د پښتو مور يا خور ده.

راسئ چي په دغه لساني او تاريخي څېړنه کي لږ څه دقيق سو او د حساب له رويه ځان کومي معقولي نتيجې ته ورسوو.

د بغلان د کتيبې تاريخ د ١٦٠ م کال حدود دي چي اوس يې ١٨٠٣ کاله کېږي د فارسي د دري ژبي اسناد

په اسلامي کتابوکي د اسلام له اوله قرنه څخه رانقل سوي دي، يعني د ۷۰۰ م په حدودوکي دري ژبه په خراسان کي موجوده وه، ګويا په پنځه قرنه کي د تخاري ژبي څخه دري ژبه پيدا سوې ده او د دغي مور او لور په منځ کي د ګرامر او دستور اوکلمه سازۍ او جمله سازۍ او د حروفو د اصواتو له پلوه ډېر فرق نسته. مګرکله چي د تخارۍ ژبي سره د پښتو مقابله کوو، د دواړو اشتراك او نژدېوالی سره معلومېږي، خو پښتو تر دري ژبي له تخارۍ څخه ليري ده او په پښتوکي ځيني شرقي اصوات لکه : ډ، ړ، ڼ سته چي په تخارۍ کي نه وه.

نو په هغه حساب چي پنځه قرنه د تخاري او دري تر منځ تېر سوي دي او اختلاف او بېلتون يې سره لېږ دی، د پښتو د انشعاب له پاره چي له تخارۍ څخه نسبتاً ليري ده، لږ تر لږه لس قرنه په کار دي، حال دا چي د پښتو ادبي آثار هم د اسلامي دورې په اول او دوهم قرن اړه لري، او د ۷۰۰ م کال په حدودوکي پښتو موجوده وه.

نو له دې حسابه دا نتيجه اخلو چي پښتو د تخارۍ ژبي لور نه ده، بلکي خور يې ده او دغه پنځه قرنه د پښتو د انشعاب له پاره له تخارۍ ژبي څخه کافي نه دي.

د بغلان په کتيبه کي ډېر پښتو ژوندي کلمات سته او دا خبره ثابته ده چي د پښتو او تخارۍ ژبي رابطه ډېره ټينګه ده، مګر دا رابطه د دوو خوندو اوګاونډيو په ډول ښکاري. د ږغپوهني او مورفولوجۍ له رويه دا دوې ژبي ځيني مشترکي خواوي هم لري، خو په ځينو خواصوکي سره بېلېږي هم.

فونولوجي )ږغپوهنه( :-

د بغلان دکتيبې له مطالعې څخه ښکاري چي تخارۍ ژبي ۲۴ ږغونه او توري درلودل، نور ږغونه يې له اوسنۍ فارسي سره مشترك دي. مګر (ف) او (ث) او (ښ) او (نګ) په فارسي کي نسته، او د فارسي (ژ) په تخارۍ کي (ز) وه (ج ـ غ) هم د بغلان په کتيبه کي نه ښکاري داسي ګمان کاووه سي چي ځيني اصوات به په دغه ژبه کي و. خو په کتيبه کي به يې د استعمال موقع نه وي راغلې د پښتو سره مشترك اصوات په دغه کتيبه کي تهـ = ث دي. چي د پښتو د (څ) سره ډېره خپلوي لري.

بل د پښتو سره مشترك صوت (ښ) دی چي د بغلان په کتيبه کي په دوو يوناني حروفو (ش ـ خ) ليکل سوی دی، حال دا چي د (خ) له پاره جلا شکل ايکس او د (ش) له پاره هم بېل شکل سته، نو داسي ښکاري چي د اوستا په توګه يو بل ږغ د (ش) او (خ) تر منځ په تخاري ژبي کي و، چي کټ مټ يې د اوسنۍ کندهاري (ښ) په ډول اداء کاوه. چي د (ش) او (خ) تر منځ يو صوت دی، او د دې صوت د اظهار له پاره يې دوه حرفه (ش ـ خ) ليکل، مثلاً : په کتيبه کي د مرحوم او مغفور پر ځای د يوه مړي سره د دعا په ډول (الو ـ شخال) ليکلی دی الو دغه موجود (اروا) يعني روان او روح دی، او شخال هم اوسنی (ښاد) دی ( شـ خـ) د (ښ) آواز لري او تخاري (ل) هم اوس په دال بدلېږي. نو جمعاً (ارواښاد) د اوسنۍ فارسي (شاد روان) او د عربي مرحوم او مغفور دی چي د مړي له پاره يوه دعائيه وينا ده او اوس هم موږ دغه اصطلاح په پښتوکي د هر مغفور له پاره استعمالولای سوای. په تخارۍ کي دوه (   ) او دوې (ي) وې چي يو دروند واو بل سپك واو و. يوه درنه (ي) وه او بله سپکه (ي) چي په پښتو او فارسي کي اوس هم د معروف او مجهول (و ـ ی) په نامه سته.

تخارۍ ژبي درې حرکته لرل. زور په يوناني الف (اې) او پېښ په يوناني "او" او ميکرون او زېر په يوناني اپوټا (ای) ښکاره سوی دی.

د پښتو څلرم حرکت "زورکی" په دې ژبه کي نه و او فارسي يې هم نه لري پدغه کتيبه کي "ج ـ غ" هم نه ښکاري، حال دا چي فارسي او پښتو يې دواړه لري.

لکه دمخه چي مو وويل : د بغلان په کتيبه کي د پښتو ځيني خصا ږغونه لکه "ټ، ځ، ډ، ړ، ږ، ڼ" نه ښکاري او همدغه سبب دی چي موږ پښتو د تخاري ژبي لور نه سو ګڼلای.

د تخارۍ ژبي د اسماؤ حالت :-

د بغلان له کتیبې څخه ښکاري چي د تخارۍ ژبي ځیني اسماء چي په پای کي ږغیز توري "واول" وي په خاصو حالتو کي دغه ږغیز توري اوړي. دغه ګرامري کیفیت په انګرېزي کي نسته، او د تخارۍ ژبي دغه خاصیت اوس په پښتو کي لیدل کیږي، خو په فارسي کي نسته، مثلاً : د پښتو کهول کلمه په مجرور حالت کي "له کهاله راغلم" ویله کیږي. پېښوریان وایي : سینمی ته ولاړم، چي د سېنما د کلمې الف په "ی" اړوي. د بغلان په کتیبه کي هم د پښتو په ډول د کانیشکا کلمه چي په واول مختومه ده په دوو مختلفو حالاتو کي کانیشکوړ _ کانیشکی راغلې ده. یو بل نوم په فاعلي حالت کي "نوکونزوك" او په موصوفي حال کي "نوکونزیك" دی.

اضافت او توصیف :-

د تخارۍ ژبي د اضافت علامه لکه د اوسنۍ فارسي یوناني ابوټا "آی" و، چي د مضاف او مضاف الیه په منځ کي راتی او اضافي ترکیب یې جوړاوه او دغه آی په اوسنی فارسي کي په اضافي زېر تبدیل سوی دی، مګر د بغلان په کتیبه کي یو بل راز اضافت هم سته، چي د پښتو په ډول اول مضاف الیه او بیا مضاف راغلی دی خو دلته کوم علامت نه لري، مثلاً : کوزګاشکي پوهر (کوزګاشکي پور)، بورزومهرپوهر (برزمهرپور)، خودی فردمان (فرمان خدا) چي دغسي مقلوب اضافات کله په فارسي کي هم سته اما توصیفي تراکیب اکثرا د پښتو په توګه دي، چي اول صفت او بیا موصوف راغلی دی، مثلاً : مشت خرګومن (خرمن بزرګ)، ایومن نوبخت (نوبخت ایومن)، بك شا (شاه بزرګ).

ابتداْ په ساکن :-

په فارسي کي اوس په ساکن حرف د کلماتو ابتداء نه کیږي مګر په پښتو او نورو آریایي ژبو کي سته، ستوری، لمر ولاړ، تخارۍ ژبه لکه پښتو په ساکن ابتداء او د بغلان په کتیبه کي ډېر کلمات راغلي دي، چي لومړني توري یې ساکن دي، لکه : ستاد (فارسي ایستاد)، فرومان (د فارسي فرمان) چي س، ف ساکن دي.

د تخارۍ ژبي او پښتو مشترك کلمات :-

له تېرو مباحثو څخه دا ښکاره کیږي چي په مستوري او مور فولوجي او فونولوجي اساسو کي ډېر ځله تخارۍ ژبه د پښتو سره ورته ده او ډېر شیان یې سره مشترك دي. د بغلان په کتیبه کي موږ ډېر داسي کلمات هم وینو، چي په اوسنۍ پښتو کي ژوندي پاته دي او دغسي کلمات موږ ته د دواړو ژبو قرابت ښه راښیي، مثلاً : په کتیبه کي بګ د عظیم او لوی په معنا مکرر راغلی دی او دا کلمه اوس په دغه معنا په کندهارۍ پښتو کي ژوندۍ ده. تادی او کید یعنی (عجلت شد) اوسنی پښتو ترکیب دی، نیست او خوت یعنی (نیست برامد)، ایر (د اوسنی پښتو اور)، الوښال (اوسنی اروانښاد)، اودوهیرس (اوسنی پښتو دېرش)، مال (اوسنی پښتو مهال یعنی وخت)، خودی (خدای)، مهرمن (د پښتو مېرمن) ټول داسي کلمات دي چي اوس هم د پښتو په مختلفو لهجو کي موجود او ژوندي دي.

نو دغه تقارب او نژدېوالی هر څیر کتونکی په دې فکر کي اچوي چي تخارۍ ژبه اصلاً یوه قدیمه دري ژبه ده او د دري او فارسي مور به وي، مګر پښتو هم له دغي ژبي سره بې علاقې نه ښکاري، او زه خپله رایه داسي ښکاره کولای سوای :

که موږ آریایي قدیمي ژبي د ځینو لساني مختصاتو پر اساس د ایران په قدیم فلات کي پر دوو برخو وویشو، نو به ځیني ژبي شرقي وبولو، چي د اباسین تر مجرا د شرق خوا ته د هند په برعظیم کي خپرې سوي دي او د دغو ژبو قدیمه مور ویدي او بیا سنسګریت وه، چي د هند پراکریت ټول له دغو څخه رازېږېدلي دي او برید یې د اباسین مجرا ده.

دغسي به غربي خوا ته موږ د هلمند مجرا هم برید فرض کو، چي د دې مجرا غربي خوا ته له اوستا څخه رانیولي بیا تر فرس قدیم او پهلوي او نورو غربي لهجو پوري آریایي ژبي او لهجې سته او په دې حساب به نو د

هلمند او اباسين تر منځ د فيلالوجي په اصطلاح يو لوی (آيزوګلاس) پيدا سي.

په دې لساني آيزوګلاس کي به موږ پښتو او د بدخشان د غرو لهجې لکه واحي او شغني او يارغلامي او روشاني او منجي او نورستاني او بيا اورمړي او پراچي او نوري لهجې داسي ومومو، چي هم د هندي ژبو سره مشترکات لري او هم له غربي ژبو لکه اوستا او فرس قديم او پهلوي سره.

تخاري ژبه هم له دغي ډلي څخه ده او داسي ښکاري چي په دغه آيزوګلاس کي د آباسين او هلمند او آمو تر منځ دوه زره کاله مخکي موجوده وه، او د پښتو سره څنګ پر څنګ د يوې خور په ډول د افغانستان په چاپېر کي ژوندۍ وه، نو ځکه دغو دواړو ژبو ګرامري او لفظي او صوتي مشترکات سره درلودل چي د بغلان کتيبه يې اوس موږ ته په ښکاره ډول راثابتوي.

دري لکه پښتو يوه افغاني ژبه ده :-

د بغلان کتيبې په لساني او تاريخي څېړنو کي موږ ته يو نوی ور د تحقيق او مطالعې له پاره را پرانيست او لکه چي ما دمخه ولي و، يوه نوې نظريه يې په فيلالوجي کي زياته کړه او هغه دا ده :

چي دري يعني د اسلامي دورې د اوايلو فارسي ژبه له پهلوي څخه په بل ځای کي نه ده زېږېدلې او افغانستان ته له بله ځايه نه ده راغلې، بلکي د دې ژبې زېږنتون او پاللتون هم دغه قديم خراسان او اوسنی افغانستان دی او د اسلامي دورې په اولو پېړيو کي دري په تخارستان او بلخ او د خراسان په څلورو سيمو کي له قديمي تخاري راپيدا سوې او هم دلې پاللې سوې ده او حتمي د هجرت تر پنځمي پېړۍ پوري د غربي ايران خلق په دې ژبه ښه نه پوهېدل او کله چي حکيم ناصر خسرو په ٤٣٨ هـ له بلخه تبريز ته ولاړ دی پخپله سفرنامه کي ليکي : "در تبريز قطران نام شاعری را ديدم، شعری نيك ميگفت اما زبان فارسی نيکو نميدانست". نو دري فارسي له خراسانه او شرقي ايرانه د غرب خوا ته خپره سوېده.

په دې ډول موږ د بغلان له کتيبې او نورو مقايسوي پلټنو څخه دا نتيجه اخلو چي پخوانۍ تخاري ژبه د دري او فارسي مور ده او له دوو زرو کالو را په دې خوا د افغانستان په غرو او درو او اوارو کي پښتو او دري څنګ پر څنګ لکه دوې خوندي کټ مټ له اوسني حاله سره برابر ژوندۍ وې او دا دواړي ژبي د دغه ځای پخوانۍ او اصيلي ژبي دي او ځکه چي سره ګاونډۍ وې نو يې يو بل بلي باندي تأثير او تأثر حال درلود او په ډېرو خواصو کي مشترکي دي[1].

---

[1]) کندهار مجله، ١٣٤٢ ل کال، ٢ ګڼه، ٦ _ ١٢ مخونه.